هېڅوک دې ستاسو څخه خپل (مسلمان) ورور ته په وسله اشاره نه کوي، ځکه هغه نه پوهېږي، ښايي شيطان يې په لاس تصرف وکړي، نو د دوزخ کندې ته به ولوېږي

د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «هېڅوک دې ستاسو څخه خپل (مسلمان) ورور ته په وسله اشاره نه کوي، ځکه هغه نه پوهېږي، ښايي شيطان يې په لاس تصرف وکړي، نو د دوزخ کندې ته به ولوېږي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي ﷺ مسلمان ته خبرداری ورکړی چې خپل مسلمان ورور ته دې په هېڅ ډول وسلې سره اشاره نه کوي، ځکه هغه نه پوهېږي، کېدی شي شيطان يې اړ باسي چې وسله په لاس کې وخوځوي، خپل (مسلمان) ورور پرې ووژني يا يې ازار کړي، نو په داسې ګناه کې به واقع شي چې د دوزخ کندې ته يې ورسوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66246